# د iHealth په کور کې د آزمويني لارښووني د

February 7, 2022 3:02 PM PASHTO



## مهمه ده چې له پيل څخه مخکې ورباندې پوه شئ

- له پيل مخکې ټولې لارښوونې په دقت سره ولولئ.
- داسې لارښوونې شتون لري چې ستاسو د آزمويني له کيټ سره راځي. د نورو معلوماتو لپاره دا لارښوونې وګورئ.
- که تاسو مرستې ته اړتيا لرئ، د خپلې ټولنې روغتيايي کارمند ته زنګ ووهئ.
- کله چې دا آزموينه په سمه توګه وکارول شي نو درد به ونکړي.
- ستاسو آزموينه يوازې يو ځل ترسره کېدی شي. آزموينه بياځلي مه کاروئ.
- د سواب څوکه يا د کارت د مخ طرف په خپلو لاسونو سره مه لمس کوئ.
- له آزمويني **مخکې** او **وروسته** لاسونه په بشپړ ډول ومينځئ.

## .1 مواد چمتو کړئ




- کڅوړه خلاصه کړئ او
  - » له کڅوړې څخه د آزمويني کارت او
  - » د مايع څخه ډک ټيوب (د استخراج ډال) را وباسئ
  - » سواب په خپل پوښ کې دی
- تر هغه چې اړتيا وي ټول توکي په خپلو پوښونو کې پرېږدئ.
- کله چې تاسو چمتو ياست، د آزمويني کارت له کڅوړې څخه را وباسئ. په يو هوار ميز يا کاونټر باندې يې خپلې مخې ته کېږدئ.

## .2 نمونه راواخلئ














- سواب له خپل پوښ څخه را وباسئ. **پام مو وي چې څوکه لمس نکړئ**. پوښ مه غورځوئ.
- سواب په يوه سږمه کې دننه کړئ. ژور يې مه دننه کوئ، يوازې (1.5 سانتي متره) تر (2 سانتي متره) يې دننه کړئ.
- سواب ته د خپلې سږمې د ننه شاوخوا فشار ورکړئ. سواب د خپلې سږمې د ننه شاوخوا په آرامی سره په دوراني شکل وموښئ.
  - » د خپلې پوزې دننه شاوخوا 5 يا ډيرې ورو حلقې جوړې کړئ.
  - » دا بايد لږ تر لږه 15 ثانيې وخت ونيسي.
  - » ډاډ حاصل کړئ چې سواب د خپلې سږمې د ننه شاوخوا په ټولو اړخونو کې په کلکه سره وموښئ.
- له ورته سواب څخه په استفادې سره دغه ټول ګامونه په خپله بله سږمه کې تکرار کړئ.

## 3. د پروسې بېلګه





- ټیوب نیغ ونیسئ. په میز باندې د ټیوب لاندینۍ برخې ته 2 ځخه تر 3 ځلې ټپ ورکړئ.
- د بوتل خلاصولو لپاره ستر، نارنجي سرپوښ تاو کړئ. پام مو وي چې هېڅ مایع د باندې توی نشي.
- د خپلې نمونې سره د سواب څوکه ټیوب ته دننه کړئ **تر هغې چې د ټیوب په ښکتنۍ برخه باندې ولګیږي**.
- لږ تر لږه **15 ځله** سواب د ټیوب په مایع کې وښوروئ.
- کله چې تاسو سواب له ټیوب ځخه وباسئ نو د ټیوب اړخونو ته په سواب باندې فشار ورکړئ. دا باید د دې لامل شي چې یو څه مایع د سواب له څوکې ځخه وباسي. سواب بیرته کولای شئ پخپله اصلي کڅوړه کې واچوئ او وېې غورځوئ.
- نارنجي پوښ بیرته په بوتل باندې ولګوئ.

## 4. نمونه اضافه کړئ او انتظار وکړئ






- ټیوب باندې کوچنی سپین سرپوښ تر هغه وخت پورې تاو کړئ تر ځو چې خلاص شي.
- ټیوب تاو کړئ او د نمونې **3 څاڅکي** د آزموینې د خپل کارت په **کوچني** سوري کې واچوئ.
- کوچنی سپین سر پوښ بیرته په ټیوب باندې کېږدئ. ټیوب له سواب سره ښکته واچوئ ترڅو لیرې وغورځول شي.
- کارت د 15 دقیقو لپاره پر خپل ځای باندې کېږدئ. لمس کوئ او خوځوئ یې مه.

## 5. پایلې ولولئ







- د 15 دقیقو انتظار وروسته، تاسو کولی شئ د خپلې آزموینې پایله ولولئ. تاسو باید خپله پایله وروسته له دې چې کارت ته څاڅکي اضافه کړئ د **15 دقیقو او 30 دقیقو تر منځ ولولئ**. خپله پایله مه ولولئ وروس**ته** له دې چې 30 دقیقې تیرې شي.
- ستاسو د آزموینې پایله **مثبته** ده که تاسو دوه کرښې وګورئ، یوه د "C" لاندې او بله د "T" لاندې.
  » **ډېر له نږدې ورته وګورئ!** د "T" لاندې کرښه کیدای شي ډیر **کمزورې وي. هره** کرښه چې تاسو یې د "T" لاندې لیدلی شئ پدې معنی چې ستاسو آزموینه مثبت ده.
  » د مثبتو آزموینو د حقیقي انځورونو لپاره هغه لارښوونې وګورئ چې ستاسو له آزموینې سره راځي.
- که تاسو یوازې یوه کرښه وګورئ (دا به د "C" لاندې وي)، ستاسو د آزموینې پایله **منفي** ده.
- که تاسو له دې مواردو ځخه کوم یو وګورئ، آزموینې **کار نه دی کړی**:
  » هېڅ کرښه نشته
  » یوازې د "T" لاندې یوه کرښه
- که ستاسو آزموینې کار ونړکړ، بله آزموینه وکړئ یا د خپلې تولنې روغتیایي کارکوونکي ته زنګ ووهئ.

موږ دغه لارښوونې آسانه کړې دي. د بشپړو لارښوونو لپاره هغه لارښوونې وګورئ چې ستاسو د آزموینې له کېټ سره راغلي دي. که تاسو پوښتنې لرئ مهرباني وکړئ د طبي متخصص سره مشوره وکړئ.

## راتلونکي اقدامات

- د ازموینې له مثبتې یا منفي پایلې سره څه وکړو" لنډه لیکنه ولولئ.
- خپل د آزموینې کېټ لرې وغورځوئ.
- خپل لاسونه ومینځئ.

Multnomah County
Health Department